فلسفه

# تاریخي ماټریالیزم
# او ډیالکتیکي ماټریالیزم

ژباړه: ملګری بېژن جزني

تاریخي ماټریالیزم او ډیالکتیکي ماټریالیزم

ژباړه: ملګری بیژن بیژني





**فلسفه**

# تاريخي ماټرياليزم

# او ډيالکټيکي ماټرياليزم

**ژباړه: ملګرى بيژن جزني**

**۱۴۰۱ل.**

# مخکینۍ خبري:

علمي فلسفه د خپل جوړښت په اوږدو کې تل د ناسمو اخیستنو سره مل وه. دې ناسمو اخیستنو خبره تر دې ځایه ورسوله، چې د دې فلسفې بنسټ ایښودونکي خپله اعلان وکړ: «زه مارکسیست نه یم!». وروسته په دویم انټرنیشنلیزم کې له دې فلسفې څخه ډېر مبتذل روایتونه وړاندې شول او د ځینو له پاره په یو میتافزیک واوښتله، چې د هر رمز کونجي او د هرې پوښتنې ځواب یې پکې لټاوه. هغوی مطلق حقیقت ته رسېدلي ول او د نوي دنیوي فقې لاره یې ورته پرانیستې وه او وروسته د پراختیا په جریان کې د «پوزیټیویزم»، «هیسټریزم»، «امپرییزم» او «میکانیزم» په اخیستنو ککړه شوه...

نن د دې فلسفې څخه د ناسمو اخیستنو اغېزه په مختلفو بڼو او ډولونو سره یوه اوږده څپه تشکیلوي. د دې څپې په یو اړخ کې مبتذل (ولګار) مارکسیزم د میکانیکي اخیستنو سره تر سترګو کیږي او په بل اړخ کې د نیو مارکسیستي په نوم ګڼې ډلې ټپلې ښکته او پورته کیږي. دوی له هغو نظریه‌ور کوونکو څخه دي، چې د مبتذلو اخیستنو په وړاندې له حده ډېر عکس‌العمل ښکاره کوي او خپله د

افراط لاره وهي او د نوي ابتذال بنسټ يې ايښى دى، لکه لوکاچ، کُرش، کُلتي او نور... همدارنگه د فرانکفورت مکتب له څو تنو آدورنو، نورک هايمر، مارکوزه او هابر ماس له اخيستنو سره، چې د علمي فلسفې سره هيڅ اړخ نه لگوي، هم مخ کيږو. اوس په غرب کې مارکسيزم له گڼو فکري مکتبونو سره مخلوط شوى دى؛ اگزيستنسيلي مارکسيزم، فرويډي مارکسيزم، سټرکچوالي مارکسيزم، هگلي مارکسيزم، تروتسکيستي مارکسيزم، نيو پوزيټيويستي مارکسيزم او داسې نور. له بلې خوا د رسمي گوندونو له مارکسيزم سره مخاميږو، چې گوندي مصلحتونو ته د هر علمي- فلسفي ليد په نسبت لومړيتوب لري.

دا لنډه ليکنه د ډياليکټيکي ماټرياليزم ټوليزو اصولو ته يوه کتنه ده، چې د علمي فلسفې بنسټ ايښودونکو او نور عمده مارکسيست متفکرانو د شننو په اساس تنظيم شوي او موخه يې له علمي فلسفې څخه ناسمو اخيستنو ته گوت‌نيونه او د ميتافزيک او ايډياليزم په وړاندې ور څخه دفاع کول دي.

سره له دې چې مارکس د علمي فلسفې بنسټ‌ايښودونکي هيڅ‌کله هم د «ډياليکټيک ماټرياليزم» اصطلاح نه ده کارولې، تل يې د «د

تاریخ مادي پېژندنه[1]» او د «د تولید مادي شرایط» اصطلاحاتو په اړه خبرې کولې. د «ډیالیکتیکي ماتریالیزم» نومې اصطلاح د علمي فلسفې بیانوونکې او پېژندنه ده. دا لیدلوری چې اخیستنه (برداشت) یې له طبیعي او ټولنیزو پدیدو څخه ډیالیکتیکي او تعبیر یې مادي دی، د فلسفې او علم له پرمختګ سره یې جوړښت او پراختیا وموندله.

د تاریخ مادي پېژندني فلسفې اړخونه د آلمان له ایډیالیستي فلسفې څخه څرګندیږي؛ کانت د آزادۍ او سوله‌غوښتونکې ټولنې په اړه خپل نظر وړاندې کوي او فیخته بشري تاریخ د عقلي پراخوالي سره همغاړی ګڼي. هیګل تاریخ د شته او راتلونکې وضعې تر منځ ټکر او د «نفي ځواک» په اړه خبرې کوي. هره وضعه په خپله لمن کې د نوې راتلونکې پېښېدونکې وضعې زړي روزي او د نوې مرحلې په لور د اوښتون او خوځونه لاره روښانوي. هره مرحله د پخوانیو مرحلو او خپل نوي عناصر له ځانه سره لېږدوي. هیګل دا

[1] **د تاریخ مادي پېژندنه**: دا مانا لري، چې طبیعت «مادي جهان» کې قانون‌مندۍ شتون لري. همدا ډول په بشري ټولنه کې هم قانون‌مندۍ شته. دا وینا د مارکس لومړی کشف دی او دویم کشف یې د اضافي ارزښت اړوند تیوري ده. دې دواړو کشفونو ته انګلس د مارکس پر قبر باندې په وینا کې، چې ټولټال ۲۵ تنو ګډون درلود، مارکسیزم وواېه.

لړۍ ډیالیکټیک ونوماوه[۲]؛ هغه مفهوم چې مارکس د خپل کار موضوع وګڼله او له چپه حالته یې راسته حالت ته او په پښو یې ودراوه. [د هیګل ډیالیکټیک پر سر ولاړ وو، مارکس هغه په پښو ودراوه؛ یاني علمي یې کړ].

فویرباخ خپل ماټریالیستي لید ته پراختیا وبخښله. د همدې ماټریالیزم «دنیٰ هسته» وه، چې د مارکس او انګلس په وسیله یې پراختیا وموندله او د تاریخ مادي بنسټونه کښېښودل شول. د فویرباخ ماټریالیزم د طبیعي علومو ماټریالیزم وو. سره له دې چې نوموړی په علمي بڼه له ایډیالیزم څخه ماټریالیزم ته په اوښتلو او د مذهب په ردولو لاس‌بری وو، ماټریالیزم یې ډېري نیمګړتیاوې لرلې.

د آلمان د ایډیالیستي فلسفې پرته د وخت نورو پدیدو هم د مارکس او انګلس د فکري پراختیا سره مرسته وکړه. فرانسه کې بابوف د انقلاب په وسیله اشتراکي ټولنې ته د اوښتو په موخه ګام واهه او

---

[۲] **د هیګل ډیالیکټیک**: تیز * انټي تیز= سِنتیز / ضد * د ضد ضد= پایله

ایډیا (روح) * غیرژوندۍ ماده (وده «تکامل») ← ژوندۍ ماده ← انسان ← ټولنه ← نړۍ

د هیګل ډیالیکټیک وایي، چې د جهان تاریخ د ایډیا تاریخ دی یا هم د مفاهیمو تر منځ د کشمکشونو پایله ده. مارکس د طبیعي علومو په استناد وویل، چې ماده لومړۍ ده.

د مارکس په ډیالیکټیک کې د جهان تاریخ د مادې تاریخ «د طبقاتي مبارزو» تاریخ دی. د ساینسي علومو له مخې عیني دی. نوموړي د هیګل ډیالیکټیک ته علمي بڼه ور کړه؛ لکه څه رنګه چې انسان سر لري، خو پر سر نه شي درېدلای، باید پر پښو ودرېږي. دې ته ورته چلند مارکس د هیګل له ډیالیکټیک سره وکړ.

سوسیالیستي آندونه د فوریه او سین‌سیمون په څېر متفکرانو په وسیله خپرېدل. دې ټولو د فرانسې د انقلاب له ګڼو اړخونو سره سره په مارکس او انګلس خپل اغېز لاره.

له بلې خوا څخه په انګلستان کې د چارټیستانو په وسیله د طبقاتي مبارزې مخ ته وړلو هم پر مارکس ژور اغېز وغورځاوه. مارکس په انګلستان کې ډېر وخت تر لاسه کړ، تر څو د پانګوالۍ مسایل په ډېر دقت سره مطالعه کړي. آدم سمیټ پانګوالي د دولت له لاس‌وهنې پرته وړاندې کړه او ریکارډو د کار د ارزښت تیوري وزېږوله؛ دا هغه تیوري وه، چې مارکس د هغې په سمولو او بشپړولو سره په ټولنه کې د یوې طبقې په لاس د بلې طبقې زبېښاک په ګوته کړ. هغه وو، چې په پورته تاریخي شرایطو کې د علمي نړۍ‌لید بنسټونه طرح شول او د انقلابي پراتیک په جریان کې ترې کار واخیستل شو. دې نړۍ‌لید د وخت او شرایطو په بدلېدو سره د نورو متفکرانو په وسیله پراختیا ومونده او علمي بڼه یې خپله کړه.

## ماتریالیزم د ایډیالیزم پر وړاندي:

ماتریالیزم یا مادي نړۍلید د طبیعي او ټولنیزو پدیدو د پېژندني، تعبیر او بیانولو د یوې لارې او مېتود په حیث له ایډیالیستي نړۍلید سره هر اړخیزه توپیر لري. د «لودویک فویرباخ او د آلمان د کلاسیکي فلسفې پای» په مقالو کې ویل کیږي، چې د ټولو فلسفو سترې پوښتنې د تفکر او وجود تر منځ اړیکې ... د روح او طبیعت تر منځ اړیکې ... او نورو پورې اړه لري. هغه ځوابونه چې فیلسوفانو دې پوښتنو ته ور کړي دي، هغوی په دوو سترو ډلو وېشي؛ څوک چې روح ته پر طبیعت لومړیتوب ورکوي، ایډیالیستان او هغوی چې طبیعت تر پر روح لومړیتوب ورکوي، ماتریالیستان بلل کیږي او د ماتریالیزم په ګڼو مکتبونو پورې تړاو مومي.

په ټوله کې د ماتریالیزم او ایډیالیزم توپیر په دې کې دی، چې د ایډیالیستانو په باور مادي عالم په روح پورې تړاو لري، په داسې حال کې چې د ماتریالیستانو په آند عالم د خپل ماهیت له مخې مادي دی او هر هغه څه چې پیدا کیږي، مادي عینیت لري او د مادي قوانینو په بنسټ په وجود راځي او پراختیا مومي. له بل اړخه ایډیالیستان معتقد دي، چې روح یا ایده له مادې څخه په یوازې

توگه شــتون لري، خو ماټرياليســتان په دې باورمند دي، چې ماده يو عيني واقعيت دی، چې له ذهنه بيرون او مســتقل شــتون لري او هره روحي يـا ذهني پـديـده د مادي لړی زېږنده ده. همدارنگه ايډياليزم وايي، چې يو مرموز او نه پېژندل کېدونکی قلمرو شــتون لري، چې له تجربې او حسـولو ور هاخوا دی، خو ماټرياليستان باور لري، چې عالم او قوانين يې د پېژندلو وړ دي؛ ســره له دې چې په مادي عالم کې ډېری شــيون لا نه دي پېژندل شــوي، خو هيڅ داســې ناپېژانده قلمرو، چې له مادي عالمه ور هاخوا وي، وجود نه لري.

د غربي فلسـفې په تاريخ کې ايډياليستي او ماټرياليستي آندونه د يو بل ځای‌ناسـتي شـوي دي؛ د اروپا په فلســفي تاريخ کې کوپرنيک ايـډيـاليزم تـه کلک گوزار ور کړ او تر هغه وروســته برنو، گاليليه او نورو دا لاره ونيوله. فرانســيس بيکن د عالم ماديت تشــخيص کړ او مـادې گڼ‌والی يې ناپايه وباله. دا هغه لاره وه، چې وروســته هابز او لاک وڅارله. هابز ټولې طبيعي پديدې ميکانيکي بللې او خدای يې له خپل فلسفي سيستمه ليري کړ. لاک په فلسفه کې حس‌پالنه رواج کړه او باور يې لاره، چې ټوله بشري پوهه له احساسه خړوبيږي.

د مادي اخيستنو له پراخوالي سره سره د ۱۸مي پېړۍ په اوله نيمايي کې انګلستان د برکلي او هيوم د ذهني ايډياليستي فلسفې د خپراوي شاهد وو. برکلي اعلان کړه، چې بهرنی عالم د انساني پوهې زېږنده او ټولې پديدې يې د احساس ترکيب وباله. هغه د مادې‌نومي مفهوم کارول منع کړ. هيوم د برکلي د نظرياتو په منلو سره عيني نړۍ نفي او احساس يې يوازنۍ شته واقعيت وګاڼه.

له بلې خوا سپينزوا د دکارت پر دوه‌ګونيتوب تر برلاسي کېدو وروسته د عالم د مادي يووالي دکتورين وړاندي کړل او دا يې ومنله، چې يو واحد جوهر (طبيعت) د ټولو پديدو اساس جوړوي.

فرانسوي ماديونو لکه ديدرو، هولباخ او نورو، په خپل فلسفي سيستم کې طبيعت د مادې د يووالي او حرکت پر اصل ودراوه. د ۱۸م. پېړۍ آلمان په فلسفه کې کانت په طبيعي علومو کې ژوره مطالعه وکړه او هڅه يې کوله، چې د ماټرياليزم او آيډياليزم تر منځ روغه وکړي.

وروسته هيګل خپل فلسفي سيستم وړاندي کړ او له کانت څخه يې د هغه د ذهني ايډياليزم او اګنوستيسزم په اړه نيوکه وکړه او په پای کې فويرباخ د آلمان د کلاسيکي فلسفې د وتلي استازي په توګه

ځـان مطرح کړ او د ایـډیالیزم په وړاندې، چې په ۱۹م. پېړۍ کې یې د آلمان فلسـفه تر خپل وزر لاندې را وسـتلې وه، د سیالۍ ډگر ته را ودانگل.

په ۱۷ او ۱۸م. پېړیو کې د فلســفې پراخوالي د میتافزیکي مادیت په نوم د مـادیـت نوې بڼـه وړاندې کړه. دې لید د طبیعي علومو پر نویو لاس‌تـه راوړنو تکیـه کولـه او هڅـه یې کولـه، چې د علمي بنســټ لرونکې وي. مـارکس او انگلس د دې مـاټریـالیزم د مثبتو اړخونو په تـائیـدولو ســره یې نیمگړتیـاوې هم ور په گوته کړې؛ میکانیکي او میـتـافـزیـکي... د مـاټریـالیزم دا ډول طبیعي او کیمیـاوي لړۍ د میکـانیکي قوانینو تر پوښــتـن لانـدې څېړي او د طبیعـت لـه بدلونه څخه هم مخ اړوي.

## ډیـالیکټیـک مـاټریـالیزم د میکانیکي ماټریالیزم پر وړاندې:

د دې مادي لیدلوري له تشریح څخه وړاندې، خپله د مادې د مفهوم پـه اړه د ځیـنـو ټـکـیو یـادونـه اړینـه ده. لنین د «مـاټریـالیزم او امپریوکریتیســیزم» په کتاب کې وایي، چې «ماده یوه فلســفي مقوله ده». د مادې د فلسـفي مفهوم پېژندلو له پاره باید د فلسـفي او علمي

مفهومونو تر منځ توپیر ته غاړه کښېږدو. آلتوسر دا تعریف داسې تشریح کوي: «د مادې فلسفي مقوله د مادې له علمي مفهوم سره ورته ګډ ستره تېروتنه ده». د مادې علمي مفاهیم د مختلفو علومو د ګڼو برخو توصیفوونکي دي. د مادې د علمي مفهوم محتوا د علم له پرمختګ سره بدلون مومي، خو د مادې فلسفي مقوله نه بدلیږي؛ ځکه چې په ځانګړي علم پورې تړاو نه لري. د فزیک په برخه کې زموږ د پوهې ډېروالی د مادې له مفهومه د دې اخیستنې (برداشت) اثبات دی. د اتوم د نوي تیورۍ نه مخکې، اتوم نهتجزیه کېدونکی او د کوچني عنصر په حیث منل کېدی، خو کله چې پر ذراتو باندې د اتوم سپړل (تجزیه) کشف او د کوارک، میزون او پوزیترون په اړه بحثونه وشول، نو دا فزیکي پوهه هم تر لاسه شوه، چې د ذراتو ضد او د مادې ضد هم شتون لري. دا ټول را ښیي، چې یوازې یو ځانګړي علمي څیز یا عینیت ته ماده نه شي ویل کېدلای او په یاد مو وي، چې دا امر د یو شي د علمي عینیت د ردولو مانا هم نه لري. بیا ځلې د لنین د «ماتریالیزم او امپریوکریتیسیزم» په کتاب کې لولو، چې «د مادې یوازنی خاصیت دا دی، چې یو عیني واقعیت دی».

د مادي عيني واقعيت ته په کتلو سره دا مومو، چې ماده په **مکان** کې پراخيږي او پـه **زمـان** کې دوام کوي. د مکـان فلســفي مفهوم ددې ځانګړنې منعکسوونکی دی، چې ماده د عالم د نورو څېزونو سره په اړيکه کې يو ټاکلی ځای (مکان) نيسـي او هر څېز دوام کوي؛ يانې پيل او پای لري. د پراخوالي او اوښـتون په بهير کې ځيني پړاوونه تر ســره کوي. د «انټي ډورينـګ» پـه کتـاب کې ډورينـګ ته، چې د مـادې پـه اړه يې دا واقعيتونـه نفي کول، انګلس داســې ځواب ور کوي: «د ټولو پديدو بنسـټيزې بڼې په مکان او زمان کې تشـکليږي او له وخته وتل همدومره بې‌مانا دي، لکه له ځايه وتل». په عالم کې هيڅ نه سـته پرته له خوځنده مادې نه او ماده يوازې په زمان او مکان کې خوځښت کولای شي.

د مـادې په اړه بل ټکی د هغې بې‌پايښـــته ځانګړنه ده. ماده په خپل عـام مفهوم کې د پيـل او پای ټکی نه لري. پخوا داســې ګڼل کېده، چې کـاينـات د ټـاکلو پولو او حـدودو لرونکی دی، خو نن ورځ د نجونو فزيک په برخه کې د پوهې په ډېرښـــت ســـره بريښـــي، چې کاينات له ګڼو کهکشانونو څخه جوړ دي او داسې بې‌پايه نظام دی، چې هلته د سـتورو تر منځ شـته وړانګې نوي عينيتونه زيږوي او نوي

ستوري را منځ ته کيږي. د کايناتو د پراخوالي (انبساط) کشفېدل، چې د ترموډېناميک له دوهم قانونه يې پيروله کوله، د علمي-فلسفي سرګردانۍ په ورکاوي کې يې ستره مرسته وکړه. د دې قانون له مخې ټوله فزيکي نړۍ د ګډوډۍ پر لور درومي او په هر منزوي نظام کې يو مقدار، چې انتروپي نوميږي، د وخت په اوږدو کې ډېريږي او په دې ډول سره د انرژۍ مېزان د هغه نظام په لاس کې نقصانيږي او دا نظام د ډېري ګډوډۍ پر لور مېلان پيدا کوي. نو بيا ولي د دې قانون په اساس ډېری هغه نظامونه چې پېژنو، نه يوازې خپله انرژي او نظم د لاسه نه ور کوي، بلکې برعکس منظميږي او د يووالي پر لور حرکت کوي؟ لامل يې دا دی، چې هر يو له دې نظامونو څخه د داسې يو نظام برخه دی، چې له يوه ستر نظام څخه تغذيه کيږي او په خپل چاپېريال کې د شته انرژۍ څخه برخمن کيږي، خپل شتون پرې ساتي او د انتروپي د پراخوالي په وړاندې مبارزه کوي. د نظامونو په دې لړۍ کې کاينات خپله د يوه ستر نظام برخه ده، چې د خپل چاپېريال څخه په تغذيې د انتروپي سره سيالي کوي او د نظم پر لور حرکت کوي. په دې ډول د فزيکي واقعيت په هيڅ يو اړخ کې؛ له يوې خوا د اتوم دنني جوړښتونه او له بلي خوا د کايناتو

ترکیب؛ پای ته نه رسـېږو او ماده په بې‌پایه ډول دوام لري. دا علمي واقعیتونه د دې خبري سم‌والی، چې طبیعت بې‌پایه دی، اثباتوي.

وروستی ټکی د مادې د حرکت په مفهوم پورې تړاو لري. ماده یوازې په حرکت کې شتون لري او یوازې د حرکت په وسیله څرګندیږي. په انټي ډورینګ کې وایي، چې «حرکت د مادې د شتون یوه بڼه ده!». د مادې حرکت مطلق او تل‌پاته دی. ماده نه خلقیږي او نه هم نابودیږي. د انرژۍ د ساتنې او بدلونې (حفظ او بقاء) له مخې، چې حرکت نه ورکیږي او له نوي په وجود را ځي، د دې فلسفي ټکي علمي اثبات دی. آن تر دې چې ماده خپله ټوله آزاده انرژي مصرف او په فضاء کې خپره کړي، بیا هم له حرکته نه لویږي.

سره له دې چې ماده او حرکت نه بېلېدونکي دي، خو ځیني فیلسوفان په غلطه دا دواړه سره بېلوي او باور لري، چې حرکت پرته له بیروني ځواکه یا مادي لېږدوونکي (حامل) هم شتون لري، چې ښه نمونه یې د انرژیزم پلویان دي. دوی ماده تر انرژۍ پورې را ټیټوي او وایي، چې ماده په انرژي اوړي او له منځه ځي. د دوی استدلال پر دې ولاړ دی، چې ذرې په فوتونونه اوړي. هغه څه چې

دوی پرې نه پوهېدل، دا وو، چې خپله فوتونونه د الکترو مقناطیسي (نوري) ډگر ذرې دي او دا ډگر په خپل ذات کې د مادې له یوه ډوله بل څه نه دي. نوې علمي لاس‌ته راوړنې د کتلې او انرژۍ قانون د انرژیزم او همدارنگه د انرژۍ او مادې د بېلتون دواړي نظریې ردوي.

د مادې حرکت گڼ شکلونه اختیاروي. په «د طبیعت ډیالیکټیک» کې ویل کیږي، چې د مادې حرکت د کایناتو ټول بدلونونه، پروسیجرونه، له ساده ځایي بدلونه تر تفکره پورې، په خپل بر کې نیسي. د حرکت یو شکل په بل شکل اوړي. د حرکت پېچلې بڼه له ساده بڼې پرته ناشونې ده.

نو ویلی شو، چې ماده د یوې فلسفي مقولې او عیني واقعیت په حیث، چې په مکان کې پراخیږي او په زمان کې دوام مومي، بې‌پایه ده؛ پیل او پای نه لري، تل په حرکت کې ده، دریږي نه او له یوه شکله په بل شکل اوړي.

«د طبیعت ډیالیکټیک» نومي کتاب سریزه په دې لفظونو پای ته رسیږي: «موږ ته مالومه ده، چې ماده په خپلو ټولو بدلونونو او اوښتونونو کې تل تر تله په یوه قسم پاته کیږي او هیڅ یوه ځانگړنه

د لاسـه نه ور کوي، نو په دې اساس د هماغه اوسپنيزي اړتيا له مخې ماده د ځمکې پر سـر خپل لوړ ترينه مخلوق (فکر) له منځه وړي او په ټاکلي زمان کې هغه په نوې بڼه را منځ ته کوي».

د مادې د اجمالي څېړني نه وروسته اوس د علمي فلسفې ماټرياليزم او ميکـانيکي مـاټريـاليزم تر منځ توپير پـه لنـډ ډول تر څېړني لاندې نيســو. لکه څنگه چې د لودويک فويرباخ په مقاله کې ورته اشـــاره شوې ده: «ميکانيکي ماټرياليسټان ميکانيکي نورمونه په آلي طبيعت او کيمياوي پلټنو کې کاروي، ســـره له دې چې ميکانيکي قوانين په دې پلټنو کې مصـــداق لري، خو دا قوانين تر دې لوړو قوانينو پـه وسـيله څنگ ته کيږي. د علمي ماټرياليزم فلســفه د ميکانيکي، آلي او ټولنيزو جهانونو تر منځ توپير ته غاړه ږدي.

ميکانيکي ماټرياليسټان، ايډياليسټانو ته ورته، لکه هيگل، داسې فکر کوي، چې بې‌پـايـه پرمختـگ يو بې‌گټې او بې‌ثمرې امر دی، ځکـه هغه څيز د هماغه څېز د تکرار پرته بل څه نه دی، لکه: ۱+۱+۱».

د هيگـل د دې خبرې پـه ځواب کې «د طبيعـت ډياليکټيک» نومی کتاب وايي، چې «په واقعيت کې هغه تکرار نه، بلکې اوښـــتون دی، وړاندې تگ دی يا هم شاتگ دی او په دې اساس حرکت يو اړين

شـکل دی». میکانیکي نظریه کاینات یو ماشین گڼي او هماغســـي چې ماشـــین په حرکت را وســـتل کیږي، پر خپل ســـر کار نه شـــي کولای، البته تر څو د یو چا په وسـیله ترې کار وا نه خیسـتل شـي؛ کاینات هم نه شي کولای، خپله په خپل ځان کې بدلون را ولي او یا یو څـه خلق کړي او معتقـد دي، چې یو وړ ځواک بـایـد د کـاینـاتو نـظـام تـه لـومـړنی ټکـان ور کړي. د علمي فلســفې مـاټریـالیزم (ډیـالیکټیـک مـاټریـالیزم) د میکـانیکي مـاټریالیزم برعکس باورمند دی، چې طبیعـت تـل د بدلون په حال کې دی او د بدلون ســـرچینه هم د همدې وېش دننه پلټې، نه بهر.

د دې دوو لـیـدلـورو تـر مـنـځ بـل توپیر دا دی، چې میکـانیکي ماټریالیستان داسې انګیري، چې د کایناتو هر شی او هره پدیده ثابته او لـه نورو پـدیـدو څخه مســـتقله ده. د دې خبرې مانا دا ده، چې د شـیونو تر منځ اړیکې بیرونۍ او د دوی له نظره کُل د اجزاوو د ساده یو ځای‌والي پرته بل څه نه دی.

د علمي فلسفې ماټریالیزم (ډیالیکټیک ماټریالیزم) باورمند دی، چې هیڅ شـــی ځوړنـد او مړاوی نه دی، بلکې د یو شـــي طبیعت د هغه اړیکې ســـره په تړاو کې، چې هغه شـــی له نورو شـیونو ســـره تړي، د

بدلون او تحول ور ګرځي. کله چې شیونه په داسې اړیکه کې
ښکېلیږي، د یو کُل غړي جوړوي او دا هغه کُلیت دی، چې نه شو
کولای، د اجزاوو د یو ځای‌والي پایله یې وګڼو. د علمي فلسفې د
بنسټ ایښودونکو له نظره په یو ځواک کې د ګڼو ځواکونو ترکیبېدل
نوی ځواک زېږوي، چې اساساً د مخکیني په څېر د بېلو غړو د یو
ځای‌والي څخه توپیر لري.

بل توپیر یې د انسان د ټولنیزو کړنو او ټولنیزو پراختیاوو په اړه دی.
میکانیکي ماټریالیستان انساني کړنې د بیروني علتونو معلول ګڼي او
دا کړنې یوازې خپله په خپله (خود بخودي) بلل کیږي. د فویرباخ
په تیزسونو کې دې برخې ته اشاره کیږي، چې: «هغه ماټریالیستي
لید چې انسان د شرایطو، چاپېریال او د یو چا له خوا روزل شوی
محصول ګڼي، دا هېروي، چې خپله انسانان دي، چې شرایطو ته
بدلون ور کوي او هغوی چې نورو ته یې ور زده کوي، خپله هم
زده‌کړې ته اړتیا لري». د «مقدسې کورنۍ» نومي کتاب په بل ځای
کې داسې یادونه ترې کیږي، چې «تاریخ هیڅ چاره نه تر سره کوي؛
د بې‌شمیرو ثروتونو خاوند نه دی، په شخړو کې نه جنګیږي. تاریخ
د موخو د تر لاسه کولو په خاطر د انساني کړنو پرته بل څه نه دی».

دا ده چې تاريخ انساني مخلوق بلل کيږي: «د بشري تاريخ او طبيعي تاريخ تر منځ توپير په دې کې دی، چې لومړنی یې موږ جوړ کړی، نه دوهم». سره له دې چې علمي فلسفه په تاريخ کې د انسان پر رول ټينګار کوي، خو بيا هم ځيني د علمي فلسفې د بنسټ ايښودونکو له ويناوو څخه د ناسـمې اخيسـتنې له امله ناسـم روايتونه وړاندې کوي او ځينې لارويان د «ټکنولوژيک ډيټرمينيزم» پر لور بيايي. لکه د داسـې ويناوو څخه؛ لاسـي ژرنده فيوډالي ټولنه زېږوي، بخارلرونکې ژرنده صنعتي پانګواله ټولنه وړاندې کوي... په استفاده بيا وايي، چې همدا «د توليدي اړيکو ټولګه، چې د ټولني اقتصـادي جوړښـت تشـکيلوي يا هم واقعي بېخبِنا، چې حقوقي او سـياسـي مخبنا پرې ولاړه ده». ټاکونکي لاملونه دي او تر توليدي اوزارو يې محدودوي... په دې برخه کې بوخارين ټکنالوژي ته تر ډېره بريده ارزښـت ور کوي، وايي چې «هر ټاکلی سيسـټم د انسـانانو د کاري اړيکو ټولنيز تکنيـک هم ټاکي... که چيرته تکنيکونه بدلون مومي د ټولنې کاري وېش ور سره بدلون کوي». بله نمونه یې پُلخانوف دی، چې وايي: «انسـاني فعـاليت اختياري نه، بلکې جبري ټاکل کيږي، ياني د يو قانون له مخي...»

انگلس په خپله یوه لیکنه کې یادوي، چې: «مارکس او دی خپله دواړه یوازې په اقتصادي لامل د ډېر ټینګار له امله ملامت دي. په هر حال د علمي فلسفې بنسټ ایښودونکو اعتقاد د جبر (ډیټرمینیزم) له سطحې چلنده سره توپیر لري». څکه چې هغوی پر چاپېریال باندې د انسانانو اغېز ښندنې باندې رښتینی باور لاره. هغوی له هر ډول فرمول جوړونې پرهېز کاوه. مارکس پرودون ته وایي، چې «پرودون علم یوازې تر فورمول کولو پورې را ټیټوي او هغه د فورمولونو په لټه کې دی...» کله چې د علمي فلسفې بنسټ ایښودونکو پلویانو په ۱۸۸۷م. کې غوښتل، د هغوی نظریه د روسیې په اړه وکاروي، هغه د نوموړې نظریې مسخه کول، یاني «په اروپا کې د پانګوالۍ د جوړښت تاریخ نومې نظریه یې پر هر هیواد او هر ملت لازمي او حتمي بلله» په اړه اندېښنه وښودله. هغه په همدې لیک کې میخائیلوفسکي ته اشاره کوي، چې یو تن د تاریخي-فلسفي عمومي نظریې څخه د هر څه له پاره د کونجي په حیث د کارولو له امله تاریخ نه شي درکولای، څکه د داسې اخیستنې لوړوالی کومه تاریخي صبغه نه لري، یاني له تاریخه ور هاخوا ده!

# د علمي فلسفې د پېژندنې یا پوهېدنې نظریه (پوهنپوهنه)

د لاادریونو لکه هیوم او کانت، چې د کایناتو هر ډول یا ټولیزه پېژندنه شکمنه گڼي او وایي، چې «هر شی په خپل ذات کې دی، یاني په تمامه مانا د پېژندلو وړ نه دی». برعکس علمي فلسفه د کایناتو اړوند د بشري پوهاوې، پوهېدنې او پېژندنې باندې باور لري. د لودویک فویرباخ په مقاله کې ورته اشاره شوې ده؛ «که موږ کولای شو، طبیعي تګ خپل او کار ترې واخلو او له دې لارې د خپلې پوهې سموالی اثبات کړو، نور نو د نه‌پوهېدنې (هر شی په خپل ذات کې دی، یاني په تمامه مانا د پېژندلو وړ نه دی) له پاره ځای نه پاته کیږي او دا په خپل ذات کې شی به په (شی زموږ له پاره) واړوو».

د لاادریونو په آند هر څه د یو داسې پرله پسې بدلون په حال کې دي، چې د «هیڅ شي په اړه هیڅ هم نه شو ویلای». د داسې آندونو او باور لرونکو څخه یې یو هم هراکلیتوس د هراکلیت شاگرد دی، چې د خپل استاد د مشهوري وینا «ناشونې ده، چې دوه ځله په یوه ویاله کې ولامبو!» په بدلولو سره هرکلیتوس وایي، چې «حتی د یو

ځل له پاره هم نه شــو کولای!»، ځکه د هغه په باور «مخکي له دې چې د انســـان ټوله تنه اوبو ته ننوځي، اوبه بدلون مومي، نو نه دا اوبه هماغـه مخکینۍ اوبـه دي او نه هم هغه کس پخوانی کس دی!». د علمي فلسـفې د پېژندني تیوري د ټولو پدیدو د بدلون اصـل په منلو سره وایي، چې دا بدلونونه دومره چټک او ګړندي هم نه دي، چې د انسانپېژندني وړ نه وي.

ماټریالیســټان د «شــي» په خپل ذات کې (یاني شــیونه زموږ له خوا حواسو بیرون) څخه منکر نه دي، خو د «ماټریالیستي شیونه په خپل ذات کې» او «ایډیالیســتي شــیونه په خپل ذات کې» تر منځ بنســټیز توپیر شـتون لري. د فویرباخ ماټریالیسـتي «شیونه په خپل ذات کې» له واقعیته سـره مل تجرید دی؛ یاني دا مني، چې زموږ له ذهنه بیرون نړۍ د پېژنـدلو وړ او له هغه څه نه ډېره متفاوته ده، چې ظاهراً موږ ته ښـکاري. په «ماټریالیزم او امپریوکرټیســیزم» کې راغلي، چې زموږ د لیدنو عینیتونه زموږ له لیدونو ســره توپیر لري. «شـــی» په خپل ذات کې له «شی زموږ دپاره» سره توپیر لري، هماغسـي چې «انسان خپله د هغـه طبیعت برخه ده، چې د ده په ذهن کې منعکســېږي». د فویر بـاخ د ښځلو او مـالګې یو مثـال پـه نظر کې نیســـو: «د مالګې خوند

يوازې د مـالګي په خصـــوصـــيتونو پورې اړه نه لري، بلکې د ځټلو حس هم د دې عيني واقعيت (خونـد) پـه ټـاکلو کې رول لري.» له دې مثال څخه داسې پايله تر لاسه کيږي، چې: «احسـاس د داسې کړنې پايله ده، چې شی په خپل ذات کې، چې په عيني بڼه له موږ نه بېرون شـتون لري، زموږ په حواسـو اغېز ښـندي... احسـاس په ذهن کې د عيني نړۍ، پـه خپل ځان کې او د ځان له پاره د نړۍ تصـــوير دی». هغه وخت د ډيټيســـګن وينا، چې ويلي وو، «په خپل ځان کې نړۍ او هغـه نړۍ چې موږ تـه ښـــکـاري؛ ياني د نړۍ پديده، په هغه شـکل چې کُل له خپلو غړو سره توپير لري، دوی هم له يو بله توپير لري»، پايله تر لاسه کيږي، چې د پديدې او «شي» په خپل ځان کې تر منځ توپير نـه شـــته. «د ظاهر او په خپل ځان کې د شــــي تر منځ مرموزه توپيرونه په خپل ذات کې د فلســـفي اپلتو نه بل څه نه دي». په عمل کې موږ هر يوه په کراتو مراتو د «شــی په خپل ځان کې» په پديدې او «شــی زموږ له پاره» باندې بدلېدل ليدلي دي. همدا بدلون دی، چې پېژندنه بشپړوي.

البته دې ته بايد پام وکړو، چې د انسـان پوهه/ پېژندنه نسبي امر دی، ځکه چې د مارکسـيستي پېژندني (پوهنه‌پوهنې) له نظره په يوه برخه

کې هم مطلقه پوهه شتون نه لري. په انتې دورينګ کې د دې نظر د اثبـات او د ازلي، غـايي او وروســـتني حقيقتونو د ردولو پـه موخه د علومو ګڼې برخې څېړل شوي دي، تر څو وکتل شي، چې آيا د دې علومو پـه کومـه يوه برخـه کې مطلقه پوهنه شـــتون لري که نه؟ هلته علوم په دريو سـترو برخو وېشـل کيږي؛ اوله برخه يې ټول هغه علوم دي، چې د مړ/ بې ځانه طبيعت ســـره کار لري، دويمه برخه علوم په ژونـديو اورګـانيزمونو پورې اړه لري او دريمـه برخـه د ټولنيزو او تـاريخي علومو ســـره. د دې درې واړو په يوه برخه کې هم د مطلق حقيقـت لاملونه او دليلونه نه موندل کيږي. همالته څلورمې برخې ته هم اشـاره کيږي، چې د انساني تفکر په اړه پلټنه کوي؛ ياني منطق او ډياليکتيک ته پکې اشـاره شوې ده او ويل کيږي، چې په دې برخه کې هم تلپاتې حقيقتونه په بده وضعه کې دي.

د علمي فلسفې د پېژندنې نظريه د هيګل په دې خبره باور لري، چې «حقيقت د پېژندني په پروســه کې نغښـتی دی»، ياني هغه څه چې د انګلس په وينا د علومو په اوږدې پراختيا کې نغښـتي دي او د پوهې لـه ټيټو کچو تر لوړو کچو پورې صـــعود کوي او پرته له دې، چې: «ګويا د مطلق حقيقت په کشـفولو سـره داسـې يوه پړاو ته ورسـيږي،

چې له هغه پورته نور ځای نه وي، یو داسې ځای چې له هغه ور ها خوا نور څه نه شي کېدلای، ورته لاس تر زنې کښېنو او په حیرانتیا سره مطلق حقیقت ته رډ رډ وګورو!».

خو د پېژندنې دا نظریه باورمنده ده، چې نسبي پوهې او حقیقت ته ورسېږي او دا لمن پراخه کړي او د دې لړۍ په پایله کې توانیږي، چې هم ځان او هم چاپېریال ته بدلون ور کړي. لنین په «ماټریالیزم او امپریوکریټیسیزم» کې ورته اشاره کوي او وایي، چې «ډیالیکټیکي ماټریالیزم زموږ د پوهې نسبت مني، نه په دې مانا چې د عیني حقیقت څخه منکر شي، بلکې په دې مانا چې دې حقیقت ته زموږ د پوهې د کچې نژدېوالی له تاریخي نظره یو مشروط امر دی».

دا ده د علمي فلسفې د پېژندنې نظریه، چې د لاادریونو له نظرونو سره بنسټیز توپیر لري: «ذهن د دې وړتیا لري، چې د عین په پېژندلو سره په هغه اغېزه وښندي، بدلون پکې را ولي او په دې جریان کې په خپله هم بدلون وکړي».

## ډیالکتیک

ډیالیکتیک داسې تاریخي مخینه لري، چې زرګونه کلونه په بر کې نیسي او خپله یې هم ډیالیکتیکي اوښتون تر سره کړی دی. په چینایي، هندي، ایراني، عربي فلسفو کې د ډیالیکتیکي څرک سره سره په لومړي ځل په ډېره ساده بڼه د یونان د طبیعي فلسفیانو؛ په ځانګړې ډول د هراکلیت له خوا مطرح شو، افلاطوني او ارسطویي بڼه یې خپله کړه او بیا یې په هګلي بڼه کې ډېره پراختیا وموندده او په پای کې یې د علمي فلسفې په بڼه وده وکړه.

ډیالیکتیک له ګڼو خواوو نه سرچینه اخلي؛ له طبیعته، له انساني ټولنو او له تفکره. هیګل ډیالیکتیک په دریو قوانینو کې را ونغاړه: «له کمیته کیفیت ته بدلون او د هغه برعکس قانون، د اضدادو قانون او د نفي-نفي قانون».

د علمي فلسفې بنسټ ایښودونکو د هیګل د همدغو طرح شویو قوانینو له مخې خپل ډیالیکتیک ته پراختیا او وده ور کړه. البته دا خبره دا مانا نه لري، چې د دوی ډیالیکتیک هماغه د هیګل ډیالیکتیک دی، ځکه د دوی ډیالیکتیک له بېخه یو له بل سره توپیر لري. د هیګل له نظره دا قوانین چې له ذهنه په طبیعت او ټولنې

تپل شوي دي او برعکس. د علمي فلسفې بنسټګر وايي: «په اصل کې زما ډيالیکټیکي روِش نه یوازې د هیګل له ډيالیکټیکي روِش سره توپیر لري، بلکې مستقیماً د هغه برعکس دی... د هیګل په لاس د ډيالیکټیک عرفاني کېدل، هغه له خپل مقامه د لومړي کس په صفت، چې د حرکت عمومي شکلونه یې ژور وړاندي کړي دي، نه را کښته کوي. له هغه سره ډيالیکټیک پر سر ولاړ دی، باید بیا ځلې په پښو ودرول شي؛ په هغه صورت کې، چې عقلي هسته یې تر عرفاني پوښښ لاندې وموندل شي».

ډيالیکټیک د میتافزیک خلاف د پراختیا او ودې مفهوم او انګېرنه ده؛ په طبیعت او ټولنه کې د بدلون او حرکت له عامو قوانینو سره کار لري. د میتافزیک د پلویانو له نظره، هغسې چې په انټيډورینګ کې ورته اشاره کوي: [شیونه او ذهني څرګندونې یې مړاوي – لیدونه- دي او باید یو په بل پسې او له یو بله بېل بېل تر څېړنې لاندې ونیول شي. شیونه چې تر تفحص لاندې نیول کیږي، ثابت دي، سخت او یو ځل د تل له پاره په وجود راغلي دي... د داسې یو کس له پاره یو «شی» شتون لري او یا یې هم شتون نه لري. یو «شی» نه شي کولای، چې په یوه وخت کې هم «خپله» او هم «بل څه»

واوســـي... د داســـې کس له نظره مثبت او منفي په مطلق ډول مانعته الجمع دي]. د میتـافزیکي نظریې د ردولو لـه پـاره په هماغه اثر کې ویـل شـــوي دي، چې: «هر آلي وجود په هماغه ګړي کې هماغه او هماغه نه دی». «هره ګړی د هغه د وجود یو شـــمېر حجرې مړې او هره ګړی نوي حجرې له ســـره نوي کوي؛ ډېر یا ژر د مادې تنه نوې کیږي». ویل کیږي، چې دوه قطبه مثلاً مثبت او منفي په هماغه کچه چې د یو بل ضـد دي، د تفکیک کېدو وړ هم نه دي او ســره له دې چې د یو بـل په وړاندې په ســـیالۍ کې په دوه اړخیزه توګه په یو بل کې سـره ننوځي او پایله تر لاسه کیږي، چې ډیالیکټیک، شیونه او د هغوی ښـکارېدنه په واقعي پیوسـتون، تسـلسـل، حرکت او پای کې پېژني.

اوس د ډیالیکټیک د قوانینو په څېړنه سره باید وګورو، چې هغوی د طبیعت او بشري ټولنې په برخه کې څنګه صدق مومي.

## کمیت او کیفیت

لومړنی قـانون چې هیګلي ډیالیکټیک او په «د طبیعت ډیالیکټیک» نومي کتاب کې ورته اشاره کیږي، د کمیت نه کیفیت ته او برعکس لـه کیفیت نه کمیت ته د بدلون قانون دی. دا قانون د دې بیانوونکی

دی، چې ټول بـدلونونـه په لومړیو کې کمي اړخ لري، ياني يوازې د ډېربښـت او کمښت اړخ، پرته له دې چې د شي په ماهيت کې بدلون را شــي، خو دا کمي بدلون تر تر تله نه شــي پاته کېدلای او د بدلون په يوه ټاکلي ټکي کې په کيفي بدلون اوړي.
هر شـــی او پـديـده ځانګړی کيفيـت لري؛ يـاني داســې ځانګړي خصـوصـيتونه، چې هغه له نورو شـيونو نه بېلوي او کميت سـره مل دي، يـاني د پراخوالي او ګړنـديتوب درجـه لري. دا دواړه اړخونـه (کميت او کيفيت) دي، چې کُلي واحد جوړوي. د طبيعت او ټولنې پـه ټولو شــيونو او پـديـدو کې دا قـانون پلي کيږي او په جهان کې داسې بدلون نه شته، چې د دې قانونو له پلې کېدو څخه پرته تر سره شي.
د دې لړيو پـه ټيټـه کچـه؛ يـاني د فزيکي علومو پـه برخـه کې ټول بـدلونونـه، دا لاره (د کمي بـدلون اوښـــتل په کيفي بدلون) وهي. دا قـانون د حرکـت د بڼو بـدلونونـه (انرژي) هم پـه خپـل ځـان کې را نغـاړي. بيـا هم ځيني ايـډياليســـټان مجادله کوي، چې په ميکانيکي حرکـت د تودوخې بـدلېـدل او برعکس، کيفيـت بدلون نه مومي او کميـت ثابت پاته کيږي او په دې بنســـټ يې په خپل خيال دا قانون

نفي کاوه. په «د طبیعت ډیالیکتیک» کتاب کې دې برخې ته داسې ځواب ور کول کیږي، چې: «د حرکت د بڼې بدلون داسې یو تگ (روند) دی، چې تل د دوو شیون تر منځ تر سره کیږي، چې له دې دوو نه یو یې د کیفیت د یو ډول څخه د حرکت ټاکلی مقدار؛ مثلاً حرارت د لاسه ور کوي او بل یو یې د کیفیت بل ډول په هماغه اندازه مقدار؛ مثلاً میکانیکي حرکت تر لاسه کوي او داسې پایله تر لاسه کیږي، چې په داسې شرایطو کې کمیت او کیفیت په دوه اړخیزه ډول یو له بله سره تړاو مومي او زیاتوي، چې که یو بې ځانه (بې روحه) شی په خپلو جوړوونکو غړیو ووېشل شي، په لومړیو کې یو کمي بدلون پېښیږي، خو دا بدلون داسې یو حد لري، چې له هغه وروسته په کیفي بدلون اوړي. کتله له مالیکولونو څخه متشکله ده او مالیکولونه له اتومونو څخه». نو ویلای شو، چې همدا توپیرونه د علومو، لکه میکانیک، فزیک، کیمیا او نورو تر منځ د بېلتون او توپیر بنسټونه دي.

د دې قانون د پلي کېدو او سموالي اړوند گڼ علمي مثالونه شتون لري، لکه: د اوبو د تودوخې درجې بدلون او له امله د کیفي بدلون راتگ (په بخار او یخ باندې د اوبو بدلون).

په کیمیا کې، چې انگلس هغه د «کیفي بدلونونو علم» په نامه نوموي او د دې قانون کړنه له ورایه پکې برېښي، مثلاً د اکسېجن په اړه، که په یوه مالیکول کې د ۲ اتومه پر ځای ۳ اتومه ترکیب شي، هغه وخت د اکسېجن پر ځای اوزون لاس ته را ځي.

د طبیعت په لوړه کچه؛ یاني ارگانیک جهان کې بیا هم کمي بدلونونه په کیفي بدلونونو اوړي، دا چې دا کچه ډېره پېچلې ده، په یو بل د کمي او کیفي بدلونونو اوښتلو موندنه هم گرانه تمامیږي. د مثال په ډول نباتات دوه مختلف پړاوونه تر سره کوي؛ ورنالیزاسیون او تودوخه. له یوه پړاوه بل ته تېرېدل د تودوخي د بدلون د کچې بدلون، لنده‌بل او د نبات شاوخوا نور په وسیله ټاکل کیږي. دا ډول بدلونونه په نبات د دانې په بدلېدو او مختلفو بدلونونو کې، چې د نبات په ژوند کې تر سره کیږي، په سترگو لیدلای شو. د جنین جوړښت او پراختیا یې هم له دې قانونه څخه متابعت کوي.

اوس د دې قانون شتون او تطبیق د انساني او بشري ټولني په کچه تر څېړنې لاندې نیسو او وینو، چې بیا یې هم سموالی مومو. په یاد مو وي، چې د پېچلتیا په دې کچه کې د دې قانون له کار اخیستني سره ډېر په احتیاط چلند وکړو، ځکه له دې مسئلې نه غلطه اخیستنه

(برداشـــت) د ټولنې لـه میکـانیکي لیـد نـه ســرچینـه اخلي او پـه «اکونومیســتي» او «خپل‌په‌خپله» باندې تمامیږي. ټولنیز بدلونونه یو داسـې پېچلی نظام دی، چې نه شـو کولای د پدیدو له سـاده بدلونه مثلاً اوبو ســره پرتله کړو. د دوه ډوله (کمي او کیفي) بدلون یووالی په انســاني ټولنه کې ډېر ټینګ او پېچلی دی او «د بدلون ټکی» یې ډېر متفاوت دی. اوبه د خپل بدلون په ټکي کې بدلون مومي. ســره له دې چې یوازې فزیکي خصـوصـیتونه یې بدلیږي او کیمیاوي یې پر ځای پاته کیږي، خو په ټوله کې بیا داسـې نه ده. د ټولنې د بدلون په ټکي کې د ټولنې ځیني اړخونه؛ سـره له دې چې مهم اړخونه یې، د ناڅاپي بدلون، ټوپ او انقلاب په وسـیله بدلیږي، خو ځینې یې بیا په هماغه چټکتیا او ګړندتیا سره بدلون نه کوي، د مثال په ډول په یو ټولنیز انقلاب کې د ټولنې اقتصــادي او سـیاسـي جوړښـتونه بدلون مومي، خو فرهنګي، رواني او نور اړخونـه یې د «بدلون په ټکي» کې نـه اوړي او اوږد مزل وهي. څـه بیـا دا چې کلـه کلـه همدا اړخونه د ټولنیز اوښــتون په لار کې لوی خنډ ګرځي او لوري ته یې بدلون ور کوي، خو په ټولنیزو مسایلو کې باید د دې قانون په اړه د خبرو کولو او شــننو پـه جریـان کې دا توپیرونه او ځانګړنې په نظر کې ولرو. را

ځو دې تـه چې دا قانون څه رنګه د ټولنې په ټولو بدلونونو کې خپله لار وهي.
د کاپيټال په لومړي ټوک کې تشـريح کيږي، چې څه رنګه د پانګې ټاکلی مقدار کولای شـي، يو واړه کارفرما ته دا شـونتيا وبخښي، چې د څو تنو کارګرانو په ګومارلو سـره يو مقدار اضـافي ارزښت تر لاسه او خپله له لاسـي کار او زياره په څنګ شي او په يو پانګوال واوړي او روښـــانوي، چې پـه يوه ټولنيز خوځښـــت بـانـدې د څو بيلا بيلو خوځښـــتونو د بـدلېـدو له پاره، څه رنګه د يو مقدار اړينو شـــرايطو شـــتون تـه اړتيا ده. په انټي ډورينګ کې دې مثال ته اشـــاره کيږي، چې: «څنګـه زموږ له نظره يو تن د دومره کارګرانو ســـره ســـره لا تر اوســـه پانګوال نه ګڼل کيږي». د دې له پاره چې ښـــه ژوند ولري او خپل توليد شـــوی نيم اضـــافي ارزښـــت بيا ځلې په پانګه واړوي، اړ دی، چې يو شمېر نور کارګران هم وګوماري. مارکس د دې واقعيت په اړه نوره توضيح ور کوي، چې ارزښت هر وړوکی مقدار په پانګې د اوښـتو له پاره بسـنه نه کوي. پايله اخلي، چې: «دلته هم لکه څنګه چې په طبيعي علومو کې د هيګل په وسـيله د کشـف شـوي قانون

ســـموالی (د ټاکلي ټکي ور ها خوا کمي بدلونونه په کیفي بدلونونو اړوي) ثابت شو، څرګندوي».
پـه همـاغـه اثر کې بیـانیږي، چې پـه یوه واحـد کې د ګڼو ځواکونو ترکیـب، نوی ځواک زیږوي، مثلاً کله چې یو کارګر په منظم ډول له نورو کارګرانو سـره مرسته وکړي، د خپل فردیت ځنځیرونه شلوي او خپلو وړتیاوو ته پراختیا ور کوي.
په کیفیت د کمي بدلونونو اوښــتل په ټولیز ډول د ټولنیزي پراختیا په جریان کې پېښــیږي. تاریخ د مختلفو ټولنیزو جوړښــتونو او مختلفو تولیدي بڼو او د تولید په یوه بڼه د بلې بڼې په اوښتولو ګواه دی.

## د ضدینو مبارزه او یووالی

د ډیالیکټیک مهم قانون «د ضدینو د مبارزې او یووالي» قانون دی، یـاني د اضـــدادو د خپـل منځي مبارزې او یووالي قانون! دا قانون د یوې پدیدې د پراخوالي، ودې او اوښـتون سرچینې را په ګوته کوي. یاد قانون د ډیالیکټیک ذات او د ثقل ټکی بلل کیږي. ډیالیکټیکي تضـاد په پدیدو کې د اضـدادو د متضـادو اړیکو (هغه اړیکې چې مانعته الجمع دي او په عین وخت کې یو په بل متکي دي) سـره سر

او کـار لري. د یوې پـدیـدې د متضـــادو اړخونو دا متقـابله اړیکه د ضــدینو یووالی ټاکي. یو مقناطیس متضـــاد اړخونه لري، چې مانعته الجمع دي، خو یو له بله سـره تړلي دي. ناشـونې ده چې دوه اړخونه سـره بېل کړو. مقناطیس چې پر منځ دوه ځایه شـي، که څلور ځایه شـــي، که اته برخې شـــي؛ بیا هم هماغه دوه اړخه‌لرونکی مقناطیس دی.

د ضدینو د مبارزې او یووالي قانون ټولي پدیدې په بر کې نیـسي، د طبیعـت او ټولنې پـه مختلفو او ګڼو ســطحو کې تطبیقیږي. پـه ټیټه کچه، بنسـټیزي ذرې د موجي او ذره‌اي متضـادو خواصـو نه جوړي دي. اتومونه خپله د داسـې متضـادو اړیکو بېلګه بلل کیږي. اتومونه د هســـتې له مثبت پروتوني او منفي الکتروني (متضـــادو) چارجونو څخه جوړ شـوي دي. کیمیاوي پروســې هم د اتومونو د تجزیې او ترکیب له متضـاد یووالي په بنسټ مخ ته ځي. په انټي ډورینګ کې راغلي، چې «یو سـاده میکانیکي حرکت هم له ځانه سره دا تضادونه لري». دا مســئله په لوړه کچه لا ښـه جوتیږي. ژوند خپله یو تضـــاد دی، چې ټولو ژوندیو پدیدو کې شـتون لري او څنګه چې تضـاد له منځه ولاړ شي، ژوند هم پای ته رسیږي او مرګ (پېښه) را رسیږي.

ژوندي اورگانيزمونه سر تر پايه له متضادو کړنو سره سر او کار لري، له هغي ډلې نه هضم او دفع د انسان او نورو ژويو په وسيله د خوراکي توکو خوړل او بيرته دفع کول او داسې نور ګڼ مثالونه شتون لري...
په لوړه کچه، ياني د انساني ټولنو په سطحه ضدين د ټولنې له ټولو لړيو سره تړلي دي. کوټلې بېلگه يې د توکو په بدلولو کې تر سترگو کيږي. په کاپيټال کې څرگنديږي، چې څنگه دوه ډوله توکي د بدلولو په جريان کې يو له بله سره په تضاد کې لوړيږي؛ د «الف» نومی توکی خپل ارزښت په «ب» نومي توکي کې بيانوي. ويل کيږي، چې: «دا دوه عنصره کاملاً يو له بله سره تړلي او په يو بل تکيه لري او د ارزښت بيانوونکي دي؛ خو په عين وخت کې مانعته الجمع دي او دوه متعارضه حدونه دي».
بله بېلگه يې هم په پانگوالي اقتصاد کې د توليد او لگښت تر منځ متضاده اړيکه ده، ځکه دا دواړه سره تړلي او له يو بل پرته د فکر کولو وړ نه دي. په گروندريسه کې د ۱۸۵۷م. کال د مارکس په سريزه کې راغلي دي، چې: «توليد لگښت دی، لگښت توليد دی... توليد توکي د بيروني عينيت په څېر د خلکو د لگښت له پاره خلق

کوي. د تولید پرته لګښــت نه شــته او د لګښــت پرته هیڅ تولید نه شــته... نه یوازې تولید لګښــت دی او لګښــت تولید دی، نه یوازې تولید د لګښـت له پاره وسـیله ده او لګښت د تولید هدف دی؛ یاني هر یو د بـل لـه پـاره عینیـت برابروي، بلکې هر یو یې جـدا له دې نه چې د بل وسـیله وي، سـره له دې ځاني بشـپړتیا په موخه، بل خلق کوي...» د یـادوني وړ ده، چې دا بیـان په هیګلي مفهوم واخلو. لکه څنګه چې هلته توضـیح ور کوي، «هغه پایله مو چې تر لاسه کړه، دا نه ده چې تولید، وېش، بدلول او لګښــت ټول سـره ورته دي، بلکې هغوی د یو کُلیت عناصر دي، په یو واحد کې د تفکیک وړ دي». د دې ډول ډیالیکټیکي اړیکې د روښانولو له پاره مارکس یو بل ځای کې اشاره کوي، چې: «د خوړو د خوړلو په وخت کې چې د لګښت یو شکل دی، بشر خپل ځان تولیدوي».

بشـــــري تاریخ سـر تر پایه له متضـادو اړیکو سـره مل دی. ټولنې د طبقاتو تر منځ د شته تضادونو په بنسټ ولاړې دي. دا متضاد طبقات سـره له دې چې مانعته الجمع دي، د یو بل تضـمین هم دي؛ مثلاً په مریيلرونکي ټولنې کې مریيلرونکی لـه مریي پرته نه شـــي کولای چې شـتون ولري او په پانګوالي ټولنه کې پانګوال د کارګر پرته او د

دې برعکس نه شي کولای، چې شتون ولري؛ یاني متضادي طبقې د یو بل تضمین کوونکي دي.

د پانگوالي ټولنې تضادونه پراخ اړخونه خپلوي. د تولید د ټولنیز خصلت او تولیدي وسایلو د خصوصي ملکیت تر منځ تضاد، د کار او پانگې تر منځ تضاد د دې تضادونو کوټلي او روښانه بېلگې دي. په پانگوالو ټولنو کې پانگه او کار په یو بل کې داسې سره نښتي دي، چې د یوه شتون د بل نه پرته ناشونی دی. مارکس د کار او پانگې په اړه د مېخ او لرگي مثال ور کوي، لکه مېخ چې په لرگي کې ټک وهل شي؛ یاني کارگر په پانگه کې مېخ شي... د کار پروسه کې هم گڼ تضادونه سر را پورته کوي، چې له هغې ډلې نه د فزیکي او فکري (مجرد) کار تر منځ تضاد د ژوندي او مړ کار تر منځ تضاد او داسې نور... د متضاد اړوند پورتنیو بېلگو باندې بسنه کوو او د تضاد په اړه نورو ټکیو (د تضاد ډولونه، یو پر بل د هغوی اغېز، په ټولنیزو او طبیعي لړیو او پدیدو کې د هغوی اغېز...) ته سر ور ښکاره کوو:

## د تضاد ډولونه

ډیالیکتیک ماټریالیزم د تضاد ډولونه په تکامل کې د هغوی د نقش او ځانګړنې له مخې ټاکي. تضـاد ګڼ ډولونه لري، خو مهم یې دنني او بهرني، اصـلي او فرعي، پخلا کېـدونکي او نـه پخلا کېـدونکي تضادونه دي.

دنني تضـادونه: هغو تضادونو ته ویل کیږي، چې د یوې پدیدې، یو شـي او یو سیسـټم دننه د مخامخ متضـادو لورو مناسبات بیانوي. دا تضــادونـه د پـدیدو او شــیونو دننه د خپل‌په‌خپله حرکت په موخه اصلي نقش لوبوي.

بهرني تضــادونه: هغو تضــادونو ته وایو، چې د شــیونو، پدیدو او د هغوی د بېروني چاپېریـال تر منځ شــتون لري. دا تضــادونه د هغو شــرایطو نقش لوبوي، چې د خپـل ځاني خوځښـــت له پاره د یوه چارچوکاټ حیثیت لري. دنني او بهرني تضادونه پر یو بل اغېز لري، خو د پدیدو او سیسـټمونو په وده کې دنني تضـادونه اصلي لاملونه دي. پـه یـاد مو وي، چې د دننیو تضــادونو په اړه دا ټینګار د بهرنیو تضـادونو د نفي مانا نه لري؛ ځکه چې هغوی هم په خاصـو شرایطو

کې کـار کولای شـــي، چې د یوې پـدیـدې د یوه اړخ یـا ماهیت په اړولو کې اغېز لري.

پـه ټولنیز اړخ کې د ودې علت باید د ټولنې دننه په دننیو تضـــادونو کې ولټوو. په ټولنه کې هم بهرني تضـــادونه او ځواکونه اغېزمن دي، خو په وروسـتنۍ شـننه او تاریخي مقطعه کې دنني تضادونه او دنني خوځنـده ځواکونـه د ټولنې د ودې لوری ټـاکي. مارکســیزم د دننیو تضـــادونو په غوڅ او ټاکونکي اغېزمنتوب باندې باور لري؛ ســره د بهرنیو تضـــادونو اهمیت نه نفي کوي، ځکه چې هغه د ودې د اړینو شــرایطو په حیث عمل کوي. بهرني تضــادونه کولای شــي، د ودې بهیر سـسـت یا چټک کړي او هغه ته مختلف شکلونه او ګڼ رنګونه ور کړي. د انقلابي مبارزانو دنده ده، چې تر څو د هیواد د مشخصې وضعې او د ودې د هرې مرحلې، د دندو او د هغو د سر ته رسولو په غوراوې او په سـمه توګه دنني او بهرني تضـادونه تشـخیص او پر یو بل د هغو اغېز روښانه کړي.

پام مو وي چې د دننیو او بهرنیو تضـادونو تر منځ شته توپیر مطلق نه دی. د یو ټـاکلي ټولنې د اســتقلال له پاره د امپریالیزم پر وړاندې د اولسونو مبارزه او له امپریالیزم سره د هغه تړلي هیواد د ټولنیزي ودې

له نظره اړیکه دننی تضــاد تشــکیلوي؛ ځکه چې امپریالیزم د هیواد دننـه ارتجاعي طبقې او ارتجاعي طبقې امپریالیزم خپله تکیه بولي او د یو پر وړاندې مبارزه د هغه بل پر وړاندې د مبارزې ماسواء ناشونې ده؛ یاني د دواړو پر وړاندې باید هممهاله مبارزه تر سره شي.
شـیونه او پدیدې په خپله لمن کې له ځانه سره ګڼ تضادونه لېږدوي او ګڼ اړخونه پکې د یو بل پر وړاندې ســره په شــخړه کې دي، خو موږ باید هغه ټاکونکی او بنســټیز تضـاد، چې غوځ نقش لوبوي او د پدیدې لوری ټاکي، له نورو فرعي تضادونو څخه بېل کړو.
اصـلي تضـادونه هغو داخلي تضـادونو ته ویل کیږي، چې د یو شي ټاکونکي، غوځ او د بنســټیزو اړخونو تر منځ شــته اړیکې بیانوي. د دې ډول بنسټیز (اصلي) تضاد له حل پرته نوی کیفیت نه زیږي؛ مثلاً په پانګوالي ټولنه کې اصلي تضاد د کار د ګټې د خصوصي مالکیت پر وړاندې د کار ټولنیزه ځانګړنه ده. له دې بنسټیز تضاده د کارګرانو او پـانګوالو تر منځ طبقـاتي مبارزه را زیږي او خوټیږي. دا تضــاد د پانګوالي تولید د ډول پر ځای د تولید بل ډول ځای‌ناستی کوي.
فرعي تضـاد د غیراســاســي اړخونو تر منځ اړیکه بیانوي. د دې ډول تضـاد حل د یو شي په ماهیت کې بدلون نه را ولي، مثلاً په پانګوالي

ټولنه کې د صنعتي، بانکي، کښت او سوداګريزې بورژوازۍ تر منځ داسې تضادونه شتون لري، چې کله کله ؟؟؟ بڼه هم خپلوي، خو د ودې په هر حالت کې د هغوی حل د پانګوالي ټولنې په ماهيت کې بدلون نه راولي او د پانګوالۍ د توليد ډول نه بدلوي. د انقلابي ستراتيژۍ او تاکتيک له پاره د اصلي تضاد او فرعي تضاد تر منځ توپير لوی ارزښت لري.

## د ټولنې په وده کې د اصلي تضاد ځانګړنې

پر طبقو په ويشل شوې ټولنې کې اصلي تضاد؛ اقتصادي ټولنيز تضاد دی. دا تضاد د ټولنې د ودې ټول اړخونه ټاکي. د ټولنيز ژوند په مختلفو اړخونو کې د اصلي تضاد تر څنګ نور ګڼ تضادونه هم شتون لري.

د اصلي تضاد ټاکنه او له نورو موجودو تضادونو سره د هغه توپير د انقلابي مبارزينو له پاره ځانګړی ارزښت لري، ځکه له دې لارې کولای شو، چې سم سياست غوره او د ژوند په پېچومو کې سمه لاره ومومو او په اغېزمنه توګه د اصلي تضاد د حل په موخه مبارزې ته سازمان ور کړو.

د ټولنې اړوند تضادونو يو له ځانګړنو څخه دا ده، چې ځينې يې نه پخلا کېدونکي او ځينې يې هم پخلا کېدونکي دي. نه پخلا کېدونکي تضادونه هغه وخت وي، چې په ټولنه کې زبېښاک وي (توليدي مناسبات د زبېښلو او ستم پر اصل ولاړ وي). پر زبېښاک ولاړې ټولنې د دا ډول تضادونو لرونکي دي. د دې ډول تضاد نه پخلا کېدونکې ځانګړنه په ټاکلي اقتصادي نقشې پورې تړاو لري، نه د حل په څرنګوالي او نه هم د هغه په نسبت زموږ په ليد پورې.
ټولنيز نه پخلا کېدونکي تضادونه د ټولنيزو کړو وړو، ټکرونو او نورو د لارې په وروستنۍ شننه کې د زړې ټولنې د اقتصادي ستنې په له منځه وړلو سره حلېږي. د نه پخلا کېدونکي تضاد د حل له پاره هغه ځواکونه، چې د تاريخي ودې پر لور ګام ږدي، هغه ځواکونه چې د دې ودې پر وړاندې خنډونه جوړوي، بايد له منځه يووړل شي.
د بورژوازي او پرولتاريا غوښتنې، ګټې او موخې هيڅکله هم سره نه پخلا کېږي. انقلاب د بورژوازي او پرولتاريا طبقې تر منځ د شته نه پخلا کېدونکي تضاد يوازنی حل دی، چې د پانګوالي مالکيت او زبېښاک ته، چې د دې تضاد سرچينه ده، د پای ټکی ږدي.

په ټولنه کې شته پخلا کېدونکي تضادونه د هغو اړخونو او لوریو تر منځ مناسبات بیانوي، چې اقتصادي بنسټ و نه لري. د دې ډول تضادونو حل په تل‌پاته او ټاکونکې شخړه او مبارزه نه تمامیږي. دا تضادونه د انسانانو د مختلفو ګټو بیانوونکي دي، نه د نه پخلا کېدونکو ګټو. د دې تضادونو حل د ټولنې د یوې ډلې یا طبقې یا اقتصادي لارې د ورکاوي مانا نه لري.

لنډه دا چې پخلا کېدونکي تضادونه د ټولنې په هغو ډلو کې زیږي، چې د اقتصادي ټولنیز نظام په چوکات کې یې بنسټیزي ګټې سره ګډې وي، لکه په پانګوالي ټولنو کې پخلا کېدونکي تضادونه د کارګرانو، بزګرانو او نورو مترقي قشرونو تر منځ... خو په ټوله کې پخلا کېدونکي تضادونه د سوسیالیستي ټولنې ځانګړنه ده، چې په هغې کې دښمني طبقې (زبېښونکي او زبېښل کېدونکي) وجود نه لري. عیني بنسټ اوښتی او د شته تضادونو د حل لاره انقلاب نه، بلکې انتقاد او اصلاح ده.

د دې بحث په پای کې ویلای شو، چې:

١- پر پخلا کېدونکو او نه پخلا کېدونکو باندې د تضادونو وېش په طبیعت پورې اړه نه لري، بلکې په ټولنې پورې اړه لري.

۲- نه پخلا کېدونکی تضاد پر زېښناک ولاړې ټولنې پورې اړه لري.
۳- د دې دواړو تضادونو تشخیصول د تضاد په عینیتوالي پورې اړه لري، نه د هغو د حل په لاره.
۴- د نه پخلا کېدونکي تضـاد حل د زړې ټولنې د اقتصادي فورم په اړولو پورې اړه لري.
۵- ټولنیز تضــادونـه د ټولنې د ودې پـه دریو پړاوونو کې خپلـه لار وهي.
- پـه پـانـگوالي ټولنـه کې د ټولنې پـه ټولو اړخونو کې نـه پخلا کېدونکي تضادونه لاس‌بري دي.
- لـه پـانگوالي څخـه ســوســیالیزم تـه د تېرېدو په پړاو کې د پخلا کېدونکو او نه پخلا کېدونکو تضادونو شتون.
- په سـوسـیالیسـتي ټولنه کې د پخلا کېدونکو تضـادونو شـتون او د نویو ټولنیزو ځواکونو زېږول.

## د نفي نفي قانون

د ډیالیکټیک دریم قانون نفي نفي د ســیالی د لارې د اوښــتون او پرخوالي قـانون دی. دا قـانون د شــیونو او پـدیـدو ټول بـدلونونه او

حرکتونه په بر کې نیســـــــي. دا قانون په دې دلالت کوي، چې ټوله شــیونه، پدیدې او مفهومونه بدلیږي، اوړي او پراخیږي. او دا بدلون د ضـدینو د سـیالۍ او د یو شـي د نفي کولو سره تر سره کیږي. د یو شي نفي چې د هغه د اغېز له امله بدلون را ځي، خپله په خپل ضد د شیونو د بدلېدو قانون سره مخ کیږي؛ نفي خپله نفي کیږي.

پـام مو وي، چې ډیالیکټیکي نفي د میتافزیکي نفي ســره هراړخیزه توپیر لري، ځکـه د دویـم له نظره نفي کاملاً د یو شـــي د نابودېدو په مانا ده.

د علمي فلســفې ډیالیکټیک په دې اصـــل تکیه لري، چې «نوی په تمامه مانا یا کاملاً زوړ له منځه نه وړي، بلکې ښه اړخونه یې ساتي»؛ نه یوازې یې سـاتي، بلکې هغه ورته کوي (له ځان سره یې عیاروي) او پـه نوې بڼـه ارتقاء ور کوي. که چیرته د پراخوالي په دې لړۍ کې دا واقعیـت پـه نظر کې و نه نیول شـــي، چې نوی نه یوازې د زاړه په نفي کولو ســـره هغـه حفظوي، نو پـه دې صـــورت کې د پراخوالي ډیالیکټیک تحریف شـوی او په غلطه لار درومي. هانري برگســون باورمند دی، چې یوازې یو ډول نفي شـــتون لري او هغه دا؛ په هغې کې نفي شوی شی په هغه څه کې چې اوښتون ترې را منځ ته شوی،

هیڅ ډول کار نه لري (دا یو ډول کامله او نامشــــــروطه نفي ده). په داسې حال کې چې ډیالیکټیکي نفي نسبي، مشروطه او جزئي ده.
لنین په فلسـفي یادښـتونو کې اشـاره کوي، چې «خالي نفي، عبثه یا بې ځـایه نفي د ډیالیکټیک ځانګړنه نه ده، بلکې نفي په ډیالیکټیک کې یوه اړیکـه او هغـه پراخوالی، چې مثبـت حفظوي، ده». پـه دې توګه ډیالیکټیکي نفي نفي یو منفي، بې ګټې جریان نه دی او په ټولو ټولنیزو او طبیعي خوځښـتونو کې خپل ځای مومي. هغه خوځښتونه چې نوی د زاړه ځـای‌ناســتی کیږي، هر پړاو له خپل مخکیني پړاوه زیږي، نوي بڼې او صفتونه له ځانه څرګندوي.
پـه انـځـي ډورینـګ کـې د ځـمـکـې پـېژنـدنې، نبـات‌پېژنـدنې، حیوان‌پېژنـدنې، ریـاضــیـاتو، تاریخ او فلســفې‌کتنو او مثالونو ته له اشــارې نه وروســته داســې پایله اخیســتل کیږي، چې نفي نفي «د طبیعـت، تاریخ او تفکر یو ډېر ټولییز (عمومي) قانون دی». د علمي فلسفې بنسټ د بشـــري ټولنې پراختیایي تګ (روند) د نفي نفي په وسیله مشخصوي. د بېلګي په توګه، هغه تاریخ ته په کتو سره په نښه کوي؛ «لکه څنګه چې مانوفکتور او کوچنی صنعت په خپلې پراختیا سـره د ځان د ورکاوي شـرایط آماده کوي، هماغسـې د پانګوالی د

تولید شـېوه هم د ځـان د ورکـاوي شــرایط خپله آماده کوي». په کاپیټال کې هم تشــــریح کیږي، چې د پانګې د تصـاحب شـېوه د پانګوالي تولید پایله ده، چې د پانګوالۍ خصـوصـي مالکیت را منځ ته کوي. دا فردي خصــوصـــي مالکیت لومړنۍ نفي ده، چې د خپل درلودونکي کار په وسیله یې بنسټ ایښودل شوی دی، خو پانګوالي تولید خپله نفي خپله زیږوي.

د نفي نفي قـانون ځینې فیلســوفـان تر خپـل انتقاد لاندې را ولي؛ له هغو نـه بـالیبـار نومی نیومـارکســیســـت هم دا قـانون ردوي او د فلســفي‌مســئلې اړوند خبرو کې وایي، چې «د نفي نفي په نوم څه نه شته. اثبات، نفي اثبات.. د شیونو پراخوالي کې د پیښو د ځنځیر هره کړۍ هم اثبات ده او هم نفي. مریي‌لرونکي ټولنې لومړنۍ ټولنه نفي کړه، خو دا کار یې د فیوډالي ټولنې ســره په تړاو کې، چې خپله یې بنســټ ایښـودونکې ده، تر سـره کړ؛ یاني اثبات». خو دا خبره د نفي نفي قـانون ســره هیڅ مغـایرت نه لري، لکه څنګه چې ورته اشـــاره وشـوه، نفي د نابودولو په مانا نه ده، بلکې نفي نفي خپله اثبات ده، نه منفي (په ریاضیاتو کې هم منفي په منفي کې مثبت کیږي).

دا قانون يې هم د ډيالېکټيک د نورو قوانينو ته ورته په ناسمو او مبتذلو اخيستنو باندې اخته کړی دی. ځينې دا قانون په ميکانيکي ډول له يوه تاريخي فورماسيونه بل تاريخي فورماسيون ته د بشري ټولنو په اوښتلو کې کاروي او دا اوښتونونه د يوې مستقيمې ليکې په څېر ګڼي او فکر کوي، چې د ټولنېزي پراختيا هر پړاو د يوې اړتيا په حيث، چې هره ټولنه يې بايد ووهي، په سترګه ورته ګوري.
په ياد مو وي، چې دا قوانين د طبيعت او ټولنې د پراختيا اړوند مخکې له مخکې غوره شوې طرح نه، بلکې د څېړنې او پېژندنې له پاره علمي او وړ مېتود بلل کيږي. انګلس خپله وايي: «ډيالېکټيک د انساني ټولنې، طبيعت او تفکر د پراخوالي او د حرکت د عمومي قوانينو د علم ماسېوا بل څه نه دی» او بيا وايي: «دا چې هر څه په يو ځانګړې ډول پراختيا مومي، نو هر اړخ بايد زده کړای شي او يوازې په دې پوهېدل، چې بوټي، غنم او د رياضيکي محاسبې دواړه د نفي نفي قانون لرونکي دي. ما ته د دې وړتيا نه را کوي، چې غنم وريېم، مشتق ونيسم او لومړنۍ تابع تر لاسه کړم».
لنين په خپل «فلسفي يادښتونه» نومي کتاب کې اشاره کوي، چې «د ډيالېکټيک اساسي تِز دا دی، چې حقيقت تل انضمامي دی؛ ياني

موږ نـه شــو کولای چې د یو انضــمـامي مورد د پراختیـا قوانین د ډیـالیکتیک د عمومي قوانینو د لارې تر څېړنې لاندې ونیســو. موږ بـایـد دا قوانین یو په یو د څېړني د لارې کشــف کړو». وینو چې د علمي فلسفې ډیالیکتیک د عیني عالم عمومي قوانین منعکسوي او عملي مېتود وړانـدې کوي، چې د ټولنې او طبیعـت اړونـد پـدیدو د څېړنې له پاره ور نه کار واخیستل شي.

لنین «د خلکو دوســتـان څوک دي؟» نومي کتـاب کې د انګلس له قوله نقل کوي، چې: «د علمي فلسـفې بنســټ ایښـودونکي هیڅ کله هم د هیګل د درې ګونو قوانینو په وسـیله د یو شي د اثباتولو خوب نـه لیـده، هغـه یوازې حقیقي تـګ (رونـد) مطـالعـه کړ او تر څېړنې لانـدې یې ونیو او یوازنۍ تیوریکـه قاعده، چې د منلو وړ وګرځېده، له واقعیت ســره یې جوړجاړی وو. دا چې اوس په ځینو برخو کې د ټولنیزو پـدیـدو پراختیـا د هیګلي طرحې ســره منطبق شــي، هیڅ د حیرانتیـا وړ نـه ده. د انګلس بنســټیز بحـث پـه دې کې دی، چې ماټریالیستان باید تاریخي ریښتنی تګ په سمه او دقیقه توګه وکاږي (ترسیم کړي) او یوازې په ډیالیکتیک باندې تکیه کول د هیګلیسم نه پرته بل څه نه دي».

# پای!